ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنۍ

ګڼه: ۱۴ | مسلسل نمبر: ۱۵۲

چهارشنبه، ربيع الآخر ۱۰، ۱۴۴۸هـ. ق کال

# اباديِ

پنځلس ورځنۍ

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از روند کار شاهراه سالنگ‌ها دیدن نمود



۳مه صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بلخ کې د صنعتي ښارګوټي د بنسټ ډبره کېښوده



۵مه صفحه

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از محصولات شرکت تولیدی «مفید» دیدن نمود



٦ صفحه

## سرلیکنه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ، د ۱۴۰۵ کال د سنبلې مياشتې په وروستيو کې د هېواد شمال ته د خپل درې ورځني سفر پرمهال د عبدالرحمن بن سُمره، قتيبه ابن سعيد بغلاني او امام شقيق بلخي (رح )په نومونو د کندوز، بغلان او بلخ ولايتونو کې د دريو صنعتي پارکونو د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه. په هغو مراسمو کې چې له همدې امله جوړ شوي و، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دغه صنعتي پارکونه د هېواد د اقتصادي ودې، صنعتي پراختيا او د پانګونې لپاره د زمينې برابرولو په برخه کې مهم ګام ياد کړ. په ريښتيا هم يو مهم ګام دی، ځکه افغانستان دا مهال اقتصادي ودې، پانګونې، د کاري فرصتونو رامنځته کولو او له وارداتي حالته صادراتي حالت ته د تګ په موخه د صنعت پراختيا ته جدي اړتيا لري. له همدې امله اسلامي امارت د صنعتي پارکونو جوړېدو ته مخه کړې ده او په اکثريت ولايتونو کې يې د صنعتي پارکونو له پاره ځمکې ځانګړې کړې دي. اوسمهال دا دی يو په بل پسې د صنعتي پارکونو د جوړېدو چارې پيلېږي. په کندوز، بغلان او بلخ کې د دې ډول صنعتي پارکونو د چارو پرانيسته د همدې لړۍ يوه برخه ده. کندوز، بغلان او بلخ د هېواد په شمال کې داسې جغرافيايي او اقتصادي موقعيت لري چې د صنعتي پارکونو پراختيا پکې کولی شي د سيمه‌ييز اقتصاد ترڅنګ د ټول افغانستان د صنعتي کېدو بهير هم پياوړی کړي. په بلخ کې د سوداګريزو او ترانزيټي فعاليتونو پراخوالی، په بغلان کې د کرنې او صنعتي توليد ظرفيت او په کندوز کې د کرنيزو محصولاتو او سوداګريزو لارو موقعيت داسې فرصتونه رامنځته کوي چې د صنعت د پراختيا له پاره ترې ګټه اخيستل کېدای شي. که دا ظرفيتونه له منظم صنعتي پلان سره وتړل شي، د شمال ولايتونه کولی شي د هېواد د توليدي اقتصاد په پياوړتيا کې مهم رول ولوبوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې وويل، د افغانستان اسلامي امارت لومړيتوب دا دی چې افغانستان په تدريج سره پر توليدي هېواد او ځوان بشري ځواک پر توليدي ځواک بدل کړي. صنعت، توليد او بازار سره ونښلوي او معياري توليد شوي محصولات د سيمې او نړۍ بازارونو ته وړاندې کړي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت د صنعتي پارکونو په جوړېدو سره غواړي، هېواد له مصرفي اقتصاد څخه د توليدي اقتصاد په لور بوځي او له همدې امله يې د صنعتي پارکونو په څېر اوږدمهاله اقتصادي ستراتيژۍ ته مخ کړې ده. په يادو ولايتونو کې صنعتي پارکونه کولای شي کرنه له صنعت، صنعت له سوداګرۍ او سوداګري له سيمه ييزو او نړيوالو بازارونو سره وتړي. په دې سره به ددې زمينه برابره شي چې افغانستان يو صنعتي هېواد او پر متې يې د هېواد اقتصاد پياوړی او پر خپلو پښو ودرېږي.



www.dpmea.gov.af

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترکيې له سفير سره وکتل

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د سنبلې مياشتې په ۱۹مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د ترکيې له سفير، ښاغلي سادين آيلدز، سره وليدل. د دې ليدنې پرمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، سوداګريزو او ترانزيتي اړيکو پر پراختيا او همداراز په ترکيه کې د افغان کډوالو د ستونزو پر حل خبرې وشوې.

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال د هغو ترکي شرکتونو



له فعاليتونو ستاينه وکړه، چې په افغانستان کې يې په بېلابېلو برخو کې پانګونه کړې ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له نورو ترکي پانګوالو هم وغوښتل چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او د افغانستان اسلامي امارت به ورته ټولې اسانتياوې برابرې کړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په ترکيه کې د افغان کډوالو د ستونزو پر حل او هغوی ته د اسانتياوو پر رامنځته کولو هم ټينګار وکړ.

د ترکيې سفير سادين آيلدز په خپلو خبرو کې خوښي څرګنده کړه، چې د افغانستان او ترکيې ترمنځ د سوداګرۍ کچه زياته شوې ده. هغه ووېل، چمتو دي چې د ټرانسپورټ، ترانزيټ، روغتيا، زده کړو او نورو اقتصادي برخو کې له افغانستان سره خپلې اړيکې لا پراخه کړي. نوموړي ووېل، ترکيه به د افغانستان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د اړيکو پراختيا او نړۍ ته د افغانستان د ريښتيني تصوير وړاندې کولو په برخه کې خپلو همکاريو ته دوام ورکړي. د ترکيې سفير همداراز ووېل، چې افغانانو ته يې د ويزو ورکړې کې اسانتيا رامنځته کړې او هڅه به وکړي چې په دې برخه کې لا نور سهولتونه هم برابر کړي

## تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۲.۷ ميليارد افغانيو په ارزښت ۱۲ پروژې منظورې کړې

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه، د ۱۴۰۵ کال د سنبلې مياشتې په ۲۱مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته ۳۰ پروژې د بحث لپاره



وړاندې شوې.

له بحث وروسته د شاوخوا ۲.۷ ميليارد افغانيو په ارزښت ۱۲ پروژې منظورې او په ۱۰ نورو پروژو کې يولړ تعديلونه منظور شول. د دوه پروژو قراردادونه د قراردادي شرکتونو د کاري نيمګړتياوو له امله لغوه او پرېکړه وشوه، چې د همدې پروژو له جملې دې د نخاس سړک له پيل تر اميد سبز ښارګوټي پورې د سړک جوړونې پروژه کابل ښاروالۍ تطبيق او د کانونو او پټروليم وزارت اړوند پروژه دې بياځلي داوطلبۍ ته وړاندې شي.

تدارکاتو کمېسيون همداراز پرېکړه وکړه چې څلور هغه پروژې دې بياځلي داوطلبۍ ته وړاندې شي، چې په تدارکاتي پروسو کې يې ستونزې موجودې دي. د دې ترڅنګ د دوه پروژو په اړه تاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د پروژو د قيمتونو په اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور يې د تدارکاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي.

## اقتصادي کمېسيون د داخلي معيارونو ٦٦ مسودې تاييد کړې

د رياستالوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د سنبلې مياشتې په ۲۴مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د معيار او کيفيت اداري له لوري د داخلي معيارونو ٦٦ مسودې د بحث لپاره وړاندې شوې. له بحث وروســته ۳٦ معيارونه او د ازمايښت ۳۰ طريقې تاييد شوې. دغه معيارونه او د ازمايښت طريقې د کرنيزو محصولاتــو، خوراکي توکــو، درملو، نســاجي، کيميا او پلاستيک، مخابراتو او اليکتريک، کان کيندنې، ساختماني موادو، چاپېريال ســاتنې او يوشــمېر نورو برخو اړوند دي. همداراز په غونډه کې په پکتيا، پکتيکا، خوست، کندهار او ننګرهار ولايتونــو کې د ډېرو ســکرو د تخليې، بارګيرۍ، پروســس او بســتهبندۍ مرکزونو د مالکيــت معلوملو پر موضوع هم بحث وشو. د موضوع له هراړخيزې ارزونې وروسته پرېکړه وشوه، چې په يادو ولايتونو کې ياد مرکزونه د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند دي او ياد وزارت به يې چارې پرمــخ وړي. په دې برخه کــې د ماليې وزارت په ګمــرک کې د خپلو اړوندو چارو مســووليت پر غاړه لري. د غونډې په پای کې د يوشمېر تعقيبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شــول، چــې په اړه يــې اړونــدو ادارو ته لازمې لارښوونې وشوې. پورته پرېکړې د نهايي تصميم نيونې په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شــيخ صاحب حفظهالله تعالی دفتر ته واستول شوې.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کندز کې د لوی صنعتي پارک د بنسټ ډبره کېښوده

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ۱۴۰۵ کال د سنبلې مياشتې په ۲٦مه نېټه، د کندز ولايت په ابدان دښــته کې د لس زره جريبه په مســاحت د (عبدالرحمن بن سُمره) صنعتي پارک د بنسټ ډبره کېښوده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دغه صنعتي پارک د هېواد د اقتصادي ودې، صنعتي پراختيا او د پانګونې لپاره د زمينې برابرولــو په برخه کې مهــم ګام ياد کړ. د رياســت الوزراء اقتصادي مرســتيال زياته کړه، د افغانستان اسلامي امارت هېوادوالو ته د کاري فرصتونــو د ايجاد او د هېواد د صنعتي ودې لپاره په مختلفو ولايتونو کې د صنعتي پارکونو د جوړېدو لپاره ځمکې ځانګړې کړې، چې د عملي چارو د پيل په دوام يې نن په کندز کې پرانيسته کوو. محترم ملا صاحب وويل




چې افغانستان د توليد، پروسس او بستهبندۍ لپاره ډېر مواد لري او په ځينو برخو کې د توليد کچه زياته او د صادراتو زمينه يې برابره شوې ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل "پر وارداتو د تکيې راکمېدو لپاره بايد توليد پياوړی، بنه يې معياري او صنعتي فعاليتونه پراختيا ومومي." د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال وويل، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې د اقتصادي فعاليتونو، سوداګرۍ او پانګونې لپاره مناسب فرصتونه رامنځته شــوي او په خبره يــې، اوس د پانګوالو او صنتکارانو لپاره ښــه فرصت دی، چې له دې فرصتونو ګټه واخلي او په افغانســتان کې پانګونه وکــړي. د محترم ملا صاحب په وينا، په وروستيو کې د کورنيو پانګوالو ترڅنګ ګڼو بهرنيو پانګوالو هم په افغانســتان کــې په بېلابېلو برخو کې پانګونې پيــل کړې دي او اسلامي امــارت ټولو پانګوالو ته امتيازات منلي او په ډېرو برخو کې يې اسانتياوې ورته رامنځته کړې دي. په پای کــې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له اړوندو مسوولينو وغوښتل، چې د دې صنعتي پارک چارې په خپل وخت او د ټولو معيارونو په نظر کې نيولو سره بشــپړې کړي. د يادونې وړ ده، چې د کندز ولايت په دغه صنعتي پارک کې به د نســاجي، درملو، خوراکي توکو، ساختماني موادو، اوســپنې او فولادو او نورو توليدي برخو کې د پانګونې زمينه برابــره شي. پــه دې صنعتي پارک کې جومــات، اداري او سوداګريزې ساحې، روغتون، بانک، مدرسه او ښوونځی او نور اړين خدمات په پام کې نيول شوي دي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند بغلان ولايت کې د صنعتي پارک د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه

د رياســتالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د سنبلې مياشتې په ۲۷مه نېټه په بغلان ولايت کې د (قتيبه ابن سعيد بغلاني) صنعتي پارک د جوړېدو چارو د پيل پرانيسته وکړه. محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند اقتصادي اســتقلال د ســياسي او فرهنګي اســتقلال بنســټ وباله او ويــې ويل، مــوږ هغه وخت اقتصادي ځان بسياينې ته رسېدلی شو، چې په کور دننه د هر ســکتور په کچه صنعتي او توليــدي فعاليتونه پراخ او پياوړي کړو. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال زياته

کـــړه، د هېواد د اقتصـــادي ودې د پیاوړتیـــا په موخه د افغانســـتان اسلامي امارت د هېواد په مختلفو سیمو کې د صنعتـــي پارکونو د جوړېدو لړۍ پیل کړې، څو په کور دننه خام مواد پروسس او تولید شوي محصولات نورو هېوادونو ته صادر کړي. مـــحترم ملا صاحب وویل، په دې سره به افغانســـتان په تدریجي ډول لـــه مصرفي هېواد څخه پر تولیدي هېواد بدل شي.  محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هېواد کې د بې‌کارۍ کچې او فقر د له منځه وړلو په اړه وویل: «وخت یې دی چې د پراخو وارداتو او بشري مرستو په برخه کې  نړۍ ته اوږده شوي لاسونه بېرته راټول کړو، له خپـــل بهترین جغرافیوي موقعیـــت او پراخو اقتصادي ظرفیتونو څخه باید داســـې ګټه واخلـــو، چې په کور دننه بې‌کاري او فقر تر ټولو ټیټې کچې ته راورسوو.»

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال دې هدف ته د رسېدو لپاره د اسلامي امـــارت او افغان ولس ګډې هڅې مهمې وبللـــې او ویـــې ویل، اسلامـــي امارت په هېـــواد کې د اوږدمهاله کاري فرصتونـــو برابرولو په برخه کې د صنعتي پارکونو جوړېدو په څېر مهم ګامونه اخلي.  محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند ټولو هېوادوالو تـــه ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په هېواد کې د شته اقتصادي ستونزو د حل لپـــاره په تدریجي او منظم ډول هڅـــې کوي او زیاته یې کړه: «په اقتصادي برخه کې به داســـې چوکاټ رامنځته کړو چې خپله کار تولید کړي، د قیمتونو د ثبات او د خلکو د خریـــد قـــدرت په برخه کـــې به د لازمو مـــالي او پولي سیاســـتونو تطبیق ته دوام ورکوو او افغانستان به په سیمه کې د ســـوداګرۍ د مهم شریک په توګه مطرح کړو.» د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال پر سیمه‌ییزو او نړیوالو اقتصادي ســـازمانونو غږ وکړ، چې په دې سازمانونو کې د افغانستان غیر فعال حضور پای ته ورسوي او رسمي فعال حضور ته یې ژر زمینه برابره کړي. د محترم ملا صاحب په خبره، پـــه دې سره بـــه افغانســـتان وکـــولای شي خپل اقتصادي لومړیتوبونه، فرصتونه او له سیمې او نړۍ سره د اقتصـــادي تعامل په اړه مهم بحثونـــه او طرحې شریکې کړي، چې دا به د سیمه‌ییز او نړیوال اقتصادي مشارکت، تخنیکي همکارۍ، ظرفیت لوړونې او د مشروع اقتصادي حقونو په ترلاســـه کولو کې مهم ګام وي. د یادونې وړ ده چې د بـــغلان ولایت صنعتي پارک په ۱۶۷۹ جریبه ځمکه جوړېږي، چې په پایله کې به یې صنعت‌کارانو ته د فعالیت او زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بلخ کې د صنعتي ښارګوټي د بنسټ ډبره کېښوده

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ۱۴۰۵ کال د سنبلې میاشتې په ۲۷مه نېټه، د بلخ ولایت په حیرتان دوه لارې کې د (امام شقیق بلخي رح) صنعتي ښارګوټي د بنسټ ډبره کېښوده. محترم ملا عبدالغني



برادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې وویل، د افغانستان اسلامي امارت لومړیتوب دا دی چې افغانستان پـــه تدریج سره پر تولیدي هېـــواد او ځوان بشري ځواک پر تولیدي ځواک بدل کړي. صنعت، تولید او بازار سره ونښلوي او معیاري تولید شوي محصولات د سیمې او نړۍ بازارونو ته وړاندې کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د بلخ صنعتي ښـــارګوټی د یو صنعتي او تولیدي افغانستان لپاره د اسلامي امارت ژمنه، ستراتیژیک تفکر او پیاوړې هوډ د عمل په ډګر کې ثابتوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، په دې سره به په دغه ولایت کې د صنعتي ځمکو د کمښت ســـتونزه حل، صنعت‌کارانو ته به د فعالیت زمینه برابره، پر وارداتو به تکیه راکمه او په ورته وخت کې به زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي. محترم ملا صاحب بلخ د هېواد له مهمو سوداګریزو، ترانزیټي او صنعتي ولایتونو یاد کړ او ویې ویـــل، په دغه ولایت کې د حیرتان بندر باید یوازې د وارداتي محصولاتو او عادي تګ راتګ مسیر ونه

اوسي؛ بلکې دا لاره باید د افغانستان د پروسس شوو محصولاتو او تولیداتو د صادرولو لپاره یوه مهمه ترانزیتي لاره وي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له نړیوالو وغوښتل چې له افغانستان سره د رسمي اقتصادي اړیکو دروازې په بشپړه توګه خلاصې او مالي او بانکي کنګل مات کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل چې اسلامي امارت په سیمه‌ییز او نړیوال مشارکت کې د فعال ګډون ظرفیت او اراده لري. محترم ملا صاحب په پای کې له ټولو صنعتکارانو وغوښتل چې له دې فرصت ګټه واخلي او په دغه صنعتي ښارګوټي کې په مختلفو برخو کې پانګونه وکړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د اسلامي امارت له لوري د لازمو اسانتیاوو برابرولو او همکارۍ ډاډ ورکړ. د یادونې وړ ده چې د بلخ صنعتي ښارګوټی پر ۲۲ زره جریبه ځمکه جوړېږي، چې په مختلفو سکتورونو کې به د خامو موادو د پروسس، معیاري محصولاتو د تولید او صادراتو لپاره زمینه برابره کړي

## شرکت‌های اماراتی به ساخت تونل دوم سالنگ و فابریکه‌های تولید دوا علاقه‌مندی نشان داده‌اند

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ ۱۷ سنبله ۱۴۰۵ در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، موضوع علاقه‌مندی شرکت HHM Global Industry Group از امارات متحده عربی به سرمایه‌گذاری در بخش ساخت تونل دوم سالنگ و فابریکه‌های تولید دوا برای بحث ارائه شد. کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی از علاقه‌مندی شرکت یادشده به سرمایه‌گذاری در افغانستان استقبال نمود و اطمینان داد که وزارت‌ها و ادارات مربوطه در این بخش با این شرکت آماده همکاری همه‌جانبه هستند. پس از بحث همه‌جانبه، از مسؤلان شرکت یادشده خواسته شد تا طرح‌های خود را برای سرمایه‌گذاری در ساخت تونل دوم سالنگ، فابریکه‌های تولید دوا و همچنان سایر بخش‌ها آماده نموده و برای بحث به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی ارائه نمایند.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از روند کار شاهراه سالنگ‌ها دیدن نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، ۲۶ سنبله ۱۴۰۵ از روند کار شاهراه سالنگ‌ها دیدن کرد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند این شاهراه را در بخش تجارت، ترانزیت و اتصال میان کابل و ولایت‌های شمالی مهم خواند و تأکید نمود که با توجه به این اهمیت، کارهای آن باید با سرعت و به‌گونه معیاری انجام شود. مسؤلان وزارت فواید عامه و شرکت‌های قراردادی به معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء اطمینان دادند که کارهای شاهراه سالنگ‌ها را مطابق پلان و با در نظر داشت تمام معیارها تکمیل خواهند نمود. قابل یادآوری است که در حال حاضر کارهای ساخت اساسی سالنگ‌های شمالی و جنوبی جریان دارد و پیشرفت قابل ملاحظه‌ای داشته است.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند فابریکه ذوب آهن را به بهره‌برداری سپرد

از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، ۲۶ سنبله ۱۴۰۵، فابریکه ذوب آهن «ختیځ لمر» در ولایت کندز به بهره‌برداری سپرده شد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند درابتدا، آغاز فعالیت این فابریکه مهم را به باشندگان کندز تبریک گفت و از قربانی‌های این مردم شریف در راستای آمدن نظام اسلامی قدردانی نمود. محترم ملا صاحب افزود که با آغاز فعالیت این فابریکه صنعتی، فرصت‌های کاری جدید و توسعه اقتصادی در ولایت کندز ایجاد خواهد شد. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء افزود که امارت اسلامی افغانستان تلاش‌های همه‌جانبه می‌کند تا پروژه‌های اساسی را در سراسر کشور تطبیق کرده و زمینه زندگی آسوده را برای هموطنان فراهم کند. قابل یادآوری است که در فابریکه ذوب آهن «ختیځ لمر» از سوی یک شرکت خارجی ۸.٦ میلیون دالر سرمایه‌گذاری شده و این فابریکه ظرفیت تولید روزانه ۳۰۰ تُن سیخ گول را دارد. در این فابریکه برای بیش از ۳۰۰ تن از هموطنان زمینه کار فراهم شده است.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از محصولات شرکت تولیدی «مفید» دیدن نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، ۲۷ سنبله ۱۴۰۵، از محصولات شرکت تولیدی «مفید؛ تولیدکننده روغن خوراکی، خوراکه حیوانی و دانه مرغ» در ولایت بلخ دیدن کرد.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از محصولات این شرکت تولیدی ستایش کرده و به مسؤولان تأکید نمود که در کنار کمیت، به کیفیت نیز توجه کامل داشته باشند.

مسؤولان این شرکت تولیدی به معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء اطمینان دادند که کیفیت را حفظ نموده و معیارها را در نظر خواهند گرفت.

در شرکت تولیدی روغن خوراکی، خوراکه حیوانی و دانه مرغ «مفید» حدود ۳۰ میلیون دالر سرمایه‌گذاری شده است که ظرفیت تولید ماهانه ۶۰۰ تُن روغن خوراکی و همچنان ۵ هزار تُن خوراکه حیوانی و دانه مرغ را دارد.



# رهنمود سرمایه گذاری

بخش ۵

## فرصت‌های سرمایه‌گذاری در بخش مخابرات و تکنالوژی

افغانستان با داشتن موقعیت جغرافیایی استراتیژیک، منابع طبیعی فراوان و امکانات بالقوه سرمایه‌گذاری، در بخش‌های مختلف فرصت‌های مناسب و خوب برای سرمایه‌گذاری دارد. یکی از این بخش‌ها بخش مخابرات و تکنالوژی است.

مخابرات و تکنالوژی به یکی از بخش‌های اساسی پیشرفت و ابتکار در جهان تبدیل شده و در رشد و توسعه اقتصادی نقش اساسی و محوری دارد.

پیشرفت در بخش اطلاعات و ارتباطات، به بلند بردن کیفیت زندگی و برآورده ساختن نیازهای بشری کمک می‌کند. همچنان، فاصله‌های مکانی را از بین می‌برد، فاصله‌های زمانی را به‌گونه بیش از حد کوتاه می‌سازد، تغییرات اساسی در بخش تولید به میان می‌آورد و در معاملات اقتصادی و تجارتی سرعت ایجاد می‌کند.

افغانستان در بخش مخابرات و تکنالوژی فرصت‌های عمده ذیل را برای سرمایه‌گذاری دارد که مهم‌ترین آن‌ها عبارت‌اند از:

- سرمایه‌گذاری در بخش زیربناهای مخابرات و تکنالوژی معلوماتی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش توسعه زیربناهای پیشرفته مخابراتی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش خدمات حکومتداری الکترونیکی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش تجارت الکترونیکی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش خدمات مالی دیجیتلی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش ایجاد مراکز تحقیق و توسعه تکنالوژی معلوماتی (R&D)؛
- سرمایه‌گذاری در بخش تکنالوژی صنعتی و زراعتی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش تکنالوژی تعلیمی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش تکنالوژی طبی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش تکنالوژی ترانسپورتی؛
- و سرمایه‌گذاری در بخش تکنالوژی نظامی.

تمامی سرمایه‌گذاران می‌توانند طرح‌های خود را به منظور سرمایه‌گذاری در این بخش، به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء ارائه کنند.



# پارک‌های صنعتی جدید؛
## گامـی بـرای رشـد صنعتـی افغانستـان

نجیب‌الله

### مقدمه

به منظور توسـعه صنعت و تولید، جـذب سرمایه‌گذاری، ایجاد فرصت‌های کاری و تقویت تولیدات داخلی در برابر واردات، در افغانسـتان، در چند روز اخیر کارهای ساخت چهار پارک صنعتی جدید آغاز شـده اسـت. ساخت این پارک‌ها در حالی آغاز می‌شـود که افغانستان برای توسعه فعالیت‌هـای اقتصـادی و افزایش تولیـدات داخلی، به زیربناهای صنعتی مناسـب نیاز دارد. آغاز کار ساخت این پارک‌هـای صنعتی در ولایت‌های کابـل، کندز، بغلان و بلخ، در بخش فراهم‌سـازی زمین و زیربنا برای توسـعه فعالیت‌های صنعتی در مناطق مختلف کشـور، یک اقدام مهم دانسـته می‌شـود. از طریـق این پارک‌هـا برای صنعـت‌کاران و سرمایه‌گذاران زمینه فعالیت فراهم خواهد شد و انتظار می‌رود فعالیت‌های جدید در بخش‌های تولید، پروسس و صادرات ایجاد شود.

### آغاز کار ساخت پارک‌های صنعتی جدید

به منظور ایجاد محیط مناسب برای فعالیت‌های صنعتی و حل مشـکلات سرمایه‌گذاران، رهبری امارت اسلامی در ولایت‌های مختلف کشـور زمین‌هایی را برای پارک‌های صنعتی اختصاص داده و قانون سـاحات صنعتی را منظور نمود. در ادامه همین تلاش‌ها، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاسـت‌الوزراء، کار سـاخت چند پارک صنعتی را در ولایت‌های مختلف کشور افتتاح کرد.به گفته مـحترم ملا عبدالغنی برادر آخند، با ایجاد پارک‌های صنعتی، مشکل کمبود زمین‌های صنعتی در ولایت‌ها حل، بـرای صنعت‌کاران زمینـه فعالیت فراهم، وابسـتگی به واردات کاهش و همزمان برای هزاران هموطن زمینه کار فراهم خواهد شد.

### شهرک صنعتی صنایع سبز کابل

مـحترم ملا عبدالغنـی برادر آخنـد، معـاون اقتصادی ریاسـت‌الوزراء، به تاریخ ۱۲ سنبله ۱۴۰۵، پلان اصلاحی شهرک صنعتی صنایع سبز را در کابل افتتاح نمود. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شـده بود، گفت که افغانسـتان زمانی به استقلال فکری، سیاسـی و اقتصادی دسـت یافتـه می‌تواند که تولیدات داخلی، زیربناهای اساسـی و ظرفیت‌های علمی آن به اندازه نیاز به‌گونه درسـت تقویت شوند. محترم ملا عبدالغنـی برادر آخند شـهرک صنعتی صنایع سـبز را از شهرک‌های صنعتی مهم در سطح کشور دانست و گفت که در اینجـا برای صدهـا فابریکه تولیدی جدیـد و هزاران هموطن زمینه کار فراهم خواهد شد. شهرک صنعتی صنایع سـبز در مساحت ۸۲۰۰ جریب زمین ساخته می‌شود که در حال حـاضر ۱۲۰ فابریکه در آن فعالیـت می‌کند و حدود ۸۰۰ میلیون دالر در آن سرمایه‌گذاری شده است.

### پارک صنعتی قتیبه ابن سعید بغلانی

این پارک صنعتی در بغلان ساخته می‌شود که محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاسـت‌الوزراء، به تاریـخ ۲۷ سـنبله ۱۴۰۵، کار سـاخت آن را افتتاح کرد. محترم ملا عبدالغنی برادر گفت که به منظور تقویت رشـد اقتصادی کشـور، امارت اسلامی افغانستان روند ساخت پارک‌های صنعتی را در مناطق مختلف کشـور آغاز کرده اسـت تا مواد خام در داخل کشـور پروسس و محصولات تولیدشده به کشـورهای دیگر صادر شـوند. محترم ملا صاحـب گفت که با این کار، افغانسـتان به‌تدریج از یک کشـور مصرفی به یک کشـور تولیدی تبدیل خواهد شد. محترم حاجی ملا صاحب در مورد کاهش سطح بیکاری و از بین بردن فقر در کشور گفت: «زمان آن فرا رسیده است که دست‌های درازشده به سوی جهان در بخش واردات




گسترده و کمک‌هـای بشری را دوباره جمع کنیم و باید از موقعیـت جغرافیایـی مناسـب و ظرفیت‌هـای گسترده اقتصادی خود به‌گونه‌ای استفاده کنیم که بیکاری و فقر را در داخل کشور به پایین‌ترین سطح برسانیم.»
معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء تلاش‌های مشترک امارت اسلامی و مردم افغانسـتان را برای رسیدن به این هدف مهم دانست و گفت: امارت اسلامی در بخش فراهم‌سازی فرصت‌هـای کاری درازمدت در کشـور، گام‌های مهمی مانند سـاخت پارک‌های صنعتی برمی‌دارد. پارک صنعتی قتیبه ابن سعید بغلانی در بغلان در مساحت ۱۶۷۹ جریب زمین ساخته می‌شود که برای صنعت‌کاران زمینه فعالیت و برای هزاران هموطن زمینه کار فراهم خواهد کرد.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصـــادي او ټـولنيــــزو مسايلــــو په بـــــرخـه کـــې
د رياســـت الـــوزراء اقتصـــادي معاونيت پنځلـــس ورځنۍ
ابادي
پنځلـــس ورځنـــۍ

## شهرک صنعتی امام شقیق بلخی (رح)

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ ۲۷ سنبله ۱۴۰۵، در دو راهی حیرتان ولایت بلخ، سنگ‌تهداب این شهرک صنعتی را گذاشت. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شده بود، گفت: اولویت امارت اسلامی افغانستان این است که افغانستان به‌تدریج به یک کشور تولیدی و نیروی بشری جوان به نیروی تولیدی تبدیل شود، صنعت، تولید و بازار را با هم وصل کند و محصولات تولیدشده معیاری را به بازارهای منطقه و جهان عرضه کند. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء افزود که شهرک صنعتی بلخ، تعهد، تفکر استراتژیک و عزم قوی امارت اسلامی را برای یک افغانستان صنعتی و تولیدی در میدان عمل ثابت می‌سازد. محترم ملا صاحب بلخ را از ولایت‌های مهم تجارتی، ترانزیتی و صنعتی کشور دانست و گفت: بندر حیرتان در این ولایت نباید تنها مسیر واردات محصولات و رفت‌وآمد عادی باشد؛ بلکه این مسیر باید یک راه مهم ترانزیتی برای صادرات محصولات پروسس‌شده و تولیدات افغانستان باشد. محترم ملا صاحب در پایان از تمام صنعت‌کاران خواست تا از این فرصت استفاده کرده و در بخش‌های مختلف در این شهرک صنعتی سرمایه‌گذاری کنند. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از فراهم‌سازی سهولت‌های لازم و همکاری از سوی امارت اسلامی اطمینان داد. شهرک صنعتی بلخ در ۲۲ هزار جریب زمین ساخته می‌شود که در بخش‌های مختلف برای پروسس مواد خام، تولید محصولات معیاری و صادرات زمینه فراهم خواهد کرد.



## پارک صنعتی عبدالرحمن بن سُمره

کار ساخت این پارک به تاریخ ۲۶ سنبله ۱۴۰۵ خورشیدی از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، افتتاح شد. این پارک در دشت آبدان کندز در ۱۰ هزار جریب زمین ساخته می‌شود. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند این پارک صنعتی را در بخش رشد اقتصادی کشور، توسعه صنعتی و فراهم‌سازی زمینه برای سرمایه‌گذاری، یک گام مهم دانست. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء افزود که امارت اسلامی افغانستان به منظور ایجاد فرصت‌های کاری برای هموطنان و رشد صنعتی کشور، برای ساخت پارک‌های صنعتی در ولایت‌های مختلف زمین‌هایی را اختصاص داده است. محترم ملا صاحب گفت که افغانستان مواد زیادی برای تولید، پروسس و بسته‌بندی دارد و در برخی بخش‌ها میزان تولید افزایش یافته و زمینه صادرات آن فراهم شده است. به گفته وی، با آمدن امارت اسلامی، فرصت‌های مناسب برای فعالیت‌های اقتصادی، تجارت و سرمایه‌گذاری در کشور ایجاد شده و به گفته وی، اکنون فرصت خوبی برای سرمایه‌گذاران و صنعت‌کاران است تا از این فرصت‌ها استفاده کرده و در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند. در این اواخر، در کنار سرمایه‌گذاران داخلی، شمار زیادی از سرمایه‌گذاران خارجی نیز در بخش‌های مختلف در افغانستان آغاز به سرمایه‌گذاری کرده‌اند و امارت اسلامی برای تمام سرمایه‌گذاران امتیازات در نظر گرفته و در بسیاری از بخش‌ها برای آنان سهولت‌هایی ایجاد کرده است. در این پارک صنعتی ولایت کندز، در بخش‌های نساجی، دوا، مواد غذایی، مواد ساختمانی، آهن و فولاد و سایر بخش‌های تولیدی، زمینه سرمایه‌گذاری فراهم خواهد شد. در این پارک صنعتی، مسجد، ساحات اداری و تجارتی، شفاخانه، بانک، مدرسه و مکتب و سایر خدمات ضروری در نظر گرفته شده است.

## ارزش اقتصادی پارک‌های صنعتی

پارک‌های صنعتی تنها فراهم‌سازی زمین برای ساخت فابریکه‌ها نیست؛ بلکه زمینه فراهم‌سازی سهولت‌های خدماتی و زیربنایی مورد نیاز برای فعالیت‌های صنعتی را نیز ایجاد می‌کند. در این پارک‌ها، سهولت‌های ضروری در زمان مناسب و به‌گونه معیاری فراهم خواهد شد و با این کار، صنعت‌کاران می‌توانند فعالیت‌های خود را در یک محیط منظم توسعه دهند. یکی از اهداف مهم ساخت این پارک‌ها، پروسس مواد خام، ایجاد تولیدات معیاری و توسعه صادرات است. افغانستان در بخش‌های مختلف دارای مواد خام طبیعی و زراعتی است، اما کمبود ظرفیت‌های پروسس سبب شده است که بخشی از این مواد به شکل خام استفاده یا به خارج صادر شود. ایجاد مراکز پروسس می‌تواند ارزش تولیدات داخلی را افزایش دهد. علاوه بر این، افغانستان هنوز هم در بخش‌های زیادی به اموال وارداتی وابسته است. ساخت پارک‌های صنعتی برای توسعه تولیدات داخلی می‌تواند زمینه کاهش نیاز به واردات را فراهم کند. اگر در این پارک‌ها فابریکه‌های مواد غذایی، نساجی، دوا، مواد ساختمانی، آهن و فولاد و سایر بخش‌های تولیدی فعال شوند، بخشی از نیازهای بازار داخلی از طریق تولیدات داخلی تأمین خواهد شد. در کنار کاهش واردات، بلند بردن کیفیت تولیدات داخلی نیز مهم است. تنها افزایش میزان تولید کافی نیست؛ بلکه تولیدات باید معیاری، رقابتی و متناسب با نیازهای بازار باشند. در این صورت، تولیدات داخلی می‌توانند نه تنها برای بازار داخلی عرضه شوند، بلکه به بازارهای منطقه و جهان نیز صادر شوند. از سوی دیگر، با ساخت پارک‌های صنعتی، ایجاد فرصت‌های کاری یکی از پیامدهای مهم اقتصادی این پروژه‌ها است. در کنار ساخت و فعالیت فابریکه‌ها، در بخش‌های ترانسپورت، لوژستیک، بسته‌بندی، خدمات و سایر بخش‌های مرتبط نیز زمینه کار ایجاد می‌شود. به‌خصوص در ولایت‌هایی که فعالیت‌های صنعتی محدود است، فعال شدن پارک‌های صنعتی می‌تواند فرصت‌های کار و کسب تجربه مسلکی را برای جوانان افزایش دهد. توسعه فعالیت‌های تولیدی همچنان روابط با سایر فعالیت‌های اقتصادی منطقه را تقویت می‌کند. امارت اسلامی افغانستان با اتخاذ سیاست

اقتصادمحـــور، می‌خواهـــد در بخش‌هـــای مختلـــف سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی را نیز به افغانســـتان جذب کند. ساخت پارک‌های صنعتی از نظر فراهم‌ساختن محیط منظـــم فعالیت برای سرمایه‌گـــذاران داخلی و خارجی نیز اهمیت دارد. سرمایه‌گذاران بـــرای سرمایه‌گذاری خود به زمین، برق، آب، سرک‌ها، ترانســـپورت، خدمات بانکی و سایر سهولت‌ها نیاز دارند. هرقدر این خدمات به‌گونه منظم و معیاری فراهم شود، زمینه برای فعالیت‌های صنعتی نیز بهتر خواهد شـــد. هماهنگی میان ادارات دولتی و سکتور خصوصی برای توسعه صنعت افغانستان مهم است. دولت می‌تواند زمینه زیربناها و سهولت‌های اداری را فراهم کند و ســـکتور خصوصی نیز از طریـــق سرمایه‌گذاری، تولید، مدیریت و بازاریابی می‌تواند در فعال‌سازی این پارک‌ها نقـــش مهمی ایفا کنـــد. افغانســـتان به دلیـــل موقعیت جغرافیایی مناســـب خود می‌توانـــد از فرصت‌های تجارتی میان بازارهای آســـیای مرکزی و جنوبی استفاده کند. اگر تولیدات داخلی معیاری و رقابتی شوند، پارک‌های صنعتی می‌توانند بـــه مراکز مهم تولید برای توســـعه فعالیت‌های صادراتی تبدیل شوند.

## نتیجه گیری

آغاز کار ساخت چهار پارک صنعتی جدید در چند روز، یک اقـــدام قابل ملاحظه در راســـتای توســـعه صنعت و تولید افغانستان است. از طریق این پارک‌ها، زمینه فعالیت برای صنعت‌کاران و سرمایه‌گذاران، ظرفیت پروسس مواد خام، امکان ایجاد فرصت‌های کاری و فرصت‌های توسعه صـــادرات می‌توانـــد افزایـــش یابد. با این حـــال، ارزش اقتصادی اصلی این پروژه‌ها پـــس از تکمیل آن‌ها و آغاز فعالیت عملی فابریکه‌ها آشکار خواهد شد. اگر زیربناهای ضروری به‌موقـــع فراهم شـــود، ســـهولت‌های لازم برای سرمایه‌گذاران فراهم گردد و بـــه کیفیت تولید و بازاریابی توجه جدی صورت گیرد، پارک‌های صنعتی جدید می‌توانند در تقویت تولیـــدات داخلی، کاهش نیاز به واردات، ایجاد زمینه کار و رشـــد اقتصادی افغانســـتان نقش مهمی ایفا کنند. از سوی دیگر، برای صنعت‌کاران نیز در بخش‌های مختلف کشـــور مـــکان مناســـب بـــرای سرمایه‌گذاری و فعالیت‌های صنعتـــی فراهم خواهد شـــد. علاوه بر این، ســـاخت این پارک‌ها در بخش ایجاد زیربناهای اقتصادی در کشور نیز یک پیشرفت بزرگ دانسته می‌شود.

## د بهرنیو اسعارو بیې

**د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې**



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکایي ډالر | ٦٤,٨٠؋ | ٦٤,٨٥؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ٢٢٦؋ | ٢٢٦؋ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ٠,٢٨؋ | ٠,٢٩؋ |
| ١ | اروپايي يورو | ٧٤,٠٠؋ | ٧٤,٢٠؋ |
| ١ | روسي روبل | ٠,٧٧؋ | ٠,٧٧؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ٧٤٧؋ | ٧٤٨؋ |
| ١ | انگلیسي پوند | ٨٦,٨٠؋ | ٨٧,٢٠؋ |
| ١ | سعودي ریال | ١٧,٢٥؋ | ١٧,٢٧؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٧,٦٤؋ | ١٧,٦٦؋ |
| ١ | چیني ین | ٩,٦٧؋ | ٩,٦٨؋ |

